**خوندي تودوخي**

- په کور کې د لوګي او کاربن مونو اوکسایډ کاري مالوموونکي ولرئ. کاربن مونو اوکسایډ یو وژونکی بې رنګه او بې بوی ګاز دی چې په کور کې جمع کېږي که چیرې د تودولو سرچینې په سم ډول د نکاسي سستم ونلري، یا که کوم جنریټر دننه وکارول شي.
- هیڅکله هم د تودوخې ''اصلاح شوې'' سرچینه لکه ګریل یا تنور مه کاروئ ځکه چې دا د اور یا کاربن مونو اوکسایډ خطرونه جوړولی شي.
- دا ډاډینه کوئ چې د تودوخې د نکاسي ټولې دریڅې پاکې او په سمه توګه لوګی له کوره بهر ایستونکې وي، که چیرې نه وي، نو د اوسېدو په ځای کې وژونکی کاربن مونو اوکسایډ جمع کېدی شي. په خاصه توګه ځمکې ته نژدې د تودوخې نکاسي دریڅې د واورو جمع کېدو له امله بندېږي، د خپلو نکاسي دریڅو څارنه کوئ او د اړتیا سره سم واورې او نور خنډان لیرې کوئ.
- که تاسو په کومه وجه جنریټر کاروئ، نو تل یې له کوره بهر او د کړکیو او دروازو څخه ښه لیرې کاروئ. د جنریټر څخه راوتونکی لوګی د کاربن مونو اوکسایډ بله سرچینه ده.
- د ژمي د خوندیتوب د نورو مالوماتو دپاره Vermont Health Department Winter Safety Page [د ورمانټ د روغتیا ریاست د ژمي د خوندیتوب پاڼه] وګورئ
- سوځېدونکی څیز د تودوخې د کومې سرچینې څخه لږ تر لږه درې فټه لیرې ساتئ.
- د یخ موسم یا توپانونو څخه وړاندې خپل د تودوخې د تېلو کچې وګورئ. د موسم یا زیاتې شوې غوښتنې له امله رسدونه ځنډېدی شي، نو دا ډاډینه کړئ چې تاسو پوره مقدار لرئ.